# ”د ظلم لاسونه“

## په قبايلي سيمو کې د وسلوال پوځ او طالبانو لخوا تيرى او تشدد – لنډيز



د بخښنې نړيوال
سازمان




## ”د ظلم لاسونه قبايلي سيموته رسيږي خو د عدالت لاسونه نه ورسيږي.“

غلام نبی، د پيښور عالی محکمې قانون پوه

نياز د پاکستان وسلوال پوځ لخوا د خپل استنطاق په ياد راوړ او په ډيرې ويرې يې وويل، ”د لومړيو پنځو ورځو لپاره هغوی د کمربند په ذريعه په شا باندې وهلو او ډبولو او درد دومره زيات ؤ چې د څرګندولو وړ نده.“ نياز او د هغه ورور ايوب د زورګونو سړيانو او هلوکانو څخه دوه تنه دي چې په قبايلي سيمو کې چې د طالبانو له کنترول څخه راوتلي د وسلوال پوځ لخوا د عملياتو په ترڅ کې نيول شوي دي.

نياز وويل، ”د استنطاق په هره ناسته کې پنځه تنه يونيفورم لرونکي پوځيان حاضر ؤ خو يوازې يو سوبدار د پنجاب له اف اف ۶ څخه غړيده.“د دې لپاره چې زه د طالبانو په غړيتوب اقرار وکړم په مرګ يې تهديدولم. ما ورته وويل چې يوازې زما د تره زوی طالب ؤ، نه زه او نه ايوب د طالبانو غړي يو. مونږ يوازې بزګر يو. د دغه انکار په اوريدو سره سوبدار به وويل، ”ستا ورور به نن شپه مړ شي! او که غواړې چې هغه د وروستي ځل لپاره ونګورې نو حقيقت ووايه!“

د ۲۰۱۲ په اپريل کې، ۱۰ ورځې وروسته له نيولو څخه، نياز د سوات له يوې پوځي اډې څخه راخلاص شه. ”دا کار ډير په چټکی وشو او ما ددې وخت پيدا نکړ چې ايوب سره خدای پاماني وکړم.“

د نياز له خلاصون څخه يو څو ساعته وروسته، د هغه د تره زوی بلال هغه ته وويل چې ايوب يو سيمييز روغتون ته ليږدول شوی دی. نياز وويل، ”ما فکر وکړ چې هغه به را خلاس شي او د خوښی احساس مې وکړ.“ خو ماسپښين بلال له بد خبر سره ماته تيلفون وکړ او ويې ويل ،“د ايوب مړی له ما سره ده.“ بلال وويل چې د پوځ يو افسر ورته وويل چې د سيدو روزنيز روغتون ته راشي او کله چې روغتون ته ورسيدم د ايوب مړی مې وليد. د پوځ افسر وويل چې ايوب په حبس کې د زړه حملې له امله ژوند له لاسه ورکړی.

تر هغه ځايه چې د بخښنې نړيوال سازمان خبر لري پاکستاني چارواکي تر اوسه د نياز او ايوب د شکنجې او د ايوب په مړينې باندې پلټنې ندي تر سره کړي.

د يوې لسيزې تشدد، زورزياتي او د وسلوالې نښتي څخه راپديخوا د پاکستان شمال لويديځه سيمه چې افغانستان سره ګډه پوله لري، د بشري حقوقونو ناورين سره مخ ده چې حکومتي او ناحکومتي ډلې معافيت سره عمل کوي. د پاکستان وسلوال پوځ په خپل سر نيولو، جبري لادرکه کيدلو، شکنجه او نور ناوړه چلند او حبس کې په مرګ تورن دی. طالبان په دوامداره توګه پرته له توپيره يرغل کوي او ناقانونه ډول پوځيان او نور خلک چې په جاسوسی تورن دي، وژني. د قبايلي سيمو د قدرت د تشې په شتون کې د امريکې متحده ايالات د بې پايلوټه الوتونکو له لارې ”په نښه سوی قتلونه“ سرته رسوي چې دغه پروګرام د بشري حقونو انديښنې راپورته کوي په تيره بيا ددې لپاره چې دغه پروګرام هيڅ شفافيت او رونوالی نلري.

ددې پرځای چې پاکستاني چارواکي په قبايلي سيمو کې د قانون حاکميت پياوړي کولو لپاره د هيواد د جنايي عدلي سيستم د بشري حقونو ساتنې عملي او پياوړی کړي، هغوی نوی قانون چې د اقداماتو قانون (AACPR) په نامه يادېږي کاوري. AACPR وسلوال پوځ ته دوامداره، پخپل سر او وقايوي توقيف اجازه ورکوي چې د نړيوالو بشري حقونو څخه سرغړاوی بلل کيږي. د عادي محکمو د سلب صلاحيت له لارې په تيره بيا د بشري حقونو څخه د سرغړاوي په قضيو کې د AACPR قانون په سيمه کې د معافيت يو فرهنګ جوړوي. په پايله کې په حبس کې د مرګ، جبري لادرکه کيده او شکنجې او نور ناوړه چال چلند په قضيو کې هيڅ شفافيت او ځواب ورکونه شتون نلري.



لاندې د بخښنې نړیوال سازمان ”د ظلم لاسونه“: د پاکستان په قبایلی سیمو کې د وسلوال پوځ او طالبانو لخوا تشدد (ASA ۳۳/۰۲۰/۲۰۱۲) تر نامه لاندې د رپوټ لنډیز ده. ددې لپاره چې د قربانیانو او د هغوی کورنیو شهرت وساتل شي، د هغوی نومونه بدل شوي دي.

## فوجی حراست میں ہلاکت

د ۲۰۱۱ کال په فبروري کې د ماخستن لمانځه څخه مخکې، د خیبر پښتونخوا د سوابی اوسیدونکی جهانزیب چې د چرګانو (پولټری) فارم یې درلود په خپل کورکې د پوځیانو لخوا ونیول شه. دا وروستی ځل ؤ چې کورنی یې هغه ژوندی ولید. د ۲۰۱۲ د جون په ۲۷ نیټه، د جهانزیب جسد په هریپور کې پیدا شه چې د هغه له کور څخه ۸۰ کیلومیتره واټن لري.

تر اوسه پورې، د جهانزیب مړینې کې د پوځیانو د لاس لرلو په باب هیڅ کومه پلټنه نده ترسره شوی. څو شاهدان چې هغه یې د پوځیانو په اسارت کې لیدلی ؤ د پیښور عالی محکمې په وړاندې یوه عریضه وکړه تر څو د جهانزیب او نورو خلکو د توقیف قانوني بنسټ تر پوښتنې راولي. د هغه په مړینې کې د پلټنې نشتون ددې ښکارندوی ده چې وسلوال پوځیان په قبایلي سیمو کې په پوره معافیت سره عمل کوي.

د بخښنې نړیوال سازمان د ایوب او جهانزیب په شان څو نورې قضیې مستندې کړې دي. په ټولو قضیو کې وسلوال پوځیان د هغوی مړي کورنیو ته تسلیم کړي او یا د هغوی مړی د شمال لویدیځ لرې پرتو سیمو کې پیدا شوي. چارواکي پدې ندي

**پاکستانی فوجی جنوبی وزیرستان کے قبائلی علاقے کھجوری کٹ کی چوٹی پر پوزیشن سنبھالتے ہوئے۔ جولائی دو ہزار گیارہ۔ ایکشنز (ان ایڈ آف سول پاور) ریگولیشن 2011 پاکستان کی مسلح افواج کو شورش زدہ قبائلی علاقوں میں وسیع اختیارات دیتا ہے۔ ہزاروں بغیر کوئی وجہ بتائے حراست میں لیے گئے ہیں۔ ان افراد پر تشدد اور دیگر بدسلوکیوں کا بلکہ دوران حراست ہلاکت کا خطرہ ہے۔**




***هره میاشت په کلیو کې یو مړی له نوټ سره پیدا کیږي چې د جاسوسی په تور وژل شوی وي.***

د خیبر قبایلی سیمي یو سرحدي افسر

بریالي شوی چې د هغوی مړیني په باب اغیزمن او یا پوره پلټنې وکړي، د هغوی کورنی ته یې هیڅ بدله ندی برابر کړی او مسؤلین یې ندي محاکمه کړي.

هغه بندیان چې ژوندي راخلاص شوي او د هغوی کورنی په مرګ تهدید شوي چې که توقیف کې د هغوی سره د چلند په باب په عام محظر کې وغږیږي. دا ددې لامل ګرځیدلی چې هغوی د کړیدو په حالت کې ووسیږي او د ځواب ورکوني لپاره هیڅ امکانات موجود نوي.

د AACPR هدف داسې بیان شوی چې د وسلوال پوځ پدې وتوانوي ترڅو د قانون په چوکاټ کې په قبایلي سیمو کې د طالبانو او نورو وسلوالو ډلو په وړاندې عملیات تر سره کړي. خو د سرغړاوي تکرار لکه مرګ او شکنجه او قربانیانو او مجرومینو ته د عدالت نشتون ددې ښکارندوی ده چې AACPR په حقیقت کې د قانون حاکمیت کمزوری کوي.

قبایلي سیمي چې د پاکستان له وروسته پاتو سیمو څخه بلل کیږي د اساسي قانون لاندې د اساسي حقونو د خوندیتوب څخه بې برخې پاتې دي. د ساتنې دغه تشه چې پکښې د بشري حقونو سرغړاوی د حکومتي او نا حکومتي کړیو لخوا سرته رسیږي په سمه توګه یې پلټنه نه کیږي، او د دغو سرغړونو سرته رسونکي عدالت ته نسپارل کیږي، چې پخپله په سیمه کې د بشري حقونو ناورین وضعیت لاهم خرابوي.

د ۲۰۱۱ په اګست کې د پاکستان حکومت د اصلاحاتو یوه کڅوړه اعلان کړه چې په ترڅ کې یې د ۱۹۰۱ کال د سرحد جرمونو قانون کې لږ مثبت بدلون راغی. دا هغه قانون ده چې د انګریزانو څخه د استعمار له دورې څخه را پدیخوا تر اوسه په قبایلي سیمو کې عملي کیږي. خو دغه اصلاحات د نړیوال بشري حقونو اسنادو ضروریات هیڅکله نشي پوره کولای او د AACPR لخوا کمزوري شوي دي.

## د ګلزار جان قضیه

**په ۲۰۱۰ کال کې ګلزار جان چې ګاونډي یې طالبانو څخه د حمایت تور پرې لږولی ؤ پوځ ته د پوښتنو ځواب لپاره مراجعه وکړله. وروسته له هغه کورنی یې بیا ژوندی ونلید. له پرله پسې غوښتنو سره سره د دوه نیمو کلونو لپاره د ګلزار جان کورنی د هغه برخلیک په باب هیڅ معلومات ترلاسه نکړ. د ۲۰۱۲ کال د اګست په ۱۶ نیټه یو کلیوال د ګلزار پلار ته وویل چې د هغه مړی د پولیسو تاڼې ته راوړل شوی ده. د هغه پلار د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل، کله چې ما خپل زوی پوځ ته وسپاره روغ رمټ ؤ او KG۸۵ یې وزن درلود. کله چې د هغه مړی راوسپارل شه ۳/۲ برخه وزن یې بایلودلای ؤ. کله چې مونږ هغه له خښولو څخه مخکې غسل ورکاوه د هغه پر شا د شلاق داغونه موجود ؤ. پولیس یوازې وویل چې هغه په حبس کې ناروغ ؤ. ترڅایه چې د بخښنې نړیوال سازمان معلومات لري، د ګلزار د کورنی د غوښتنې سره سره، چارواکي د هغه د مرګ د علت په باب پلټنې او یا عدلي معاینات ندي ترسره کړي.**




**د طالبانو یو جنګیالی پاکستاني پوځیان چې د ټانک له علاقې څخه نیول شوي دي، وژني، د ۲۰۰۱ کال د جنوري ۴**

## د طالبانو زورزیاتی

طالبانو د نیول شویو پوځیانو او تورنو جاسوسانو څخه په بې توبیره توګه زرګونه تنه یې وژلي او ټپیان کړي، چې همدارنګه د بشري حقونو سر غړونو ته یې دوام ورکړی. هغوی د ځان مرګي او کېنودل شوي بمونو له لارې په مارکیټونو، جوماتونو، ښونځیو او نورو ګڼدمیشته سیمو کې ملکي خلک په بې توپیره او یا عمدي ډول په نښه کړي دي.

په هغه سیمو کې چې طالبان پکښې کنټرول لري، هغوی خلک په ناقانونه توګه وژني، په یو شمیر حالاتو کې د په اصطلاح قضایي پروسیجرونو له لارې او په یوشمیر نورو حالاتو کې پرته له کوم پروسیجر څخه. په یو شمیر قضیو کې، طالبان خلک د جاسوسي په تور او نیول شوي وسلوال پوځیان په ناقانونه توګه وژني. د اعدام په شان وژني د نړیوال بشردوستانه قانون او د ژوندانه حق په ګډون د بشري حقونو څخه سرغړاوی بلل کیږي. د طالبانو په ظاهر قضایي جریان حتی د بشري حقونو نړیوال اسنادو او د نړیوال بشردوستانه قانون اساسي اړتیاوې نشي پوره کولای.

## د نظر قضیه

**د ۲۰۱۱ کال د مي په ۱۵ نیټه، نظر چې د شمالي وزیرستان استوګن ده په ناقانونه توګه د طالبانو لخوا د پاکستان پوځ ته د جاسوسی په تور ووژل شه. د قاری ظفر په وینا چې د طالبانو یو اعدامونکی ده او د نظر وژلو څخه یې نظارت کاوه د نظر جسد وروسته د طالبانو لخوا ټوټه ټوټه شه.**

**قاري ظفر وویل، ”ما نظر د دوه تنه طالب جنګیالیانو په لاس وواژه.“ د هغه لاسونه تر شا ترل شوي وه. یو تن جنګیالی هغه د سر په چپ خوا ویشته او هغه دفعتاً مړ شه. وروسته له هغه جنګیالانو د هغه بدن ټوټې ټوټې کړ تر څو نورو جاسوسانو ته د عبرت خای وګرځي.**

**د سهار په وروستیو شیبو کې د نظر ورور چې امجد نومیږي د هغه جسد وموند. امجد وویل، (د هغه مړی تازه ؤ او داسي ښکاریده چې یو څو ساعته مخکې وژل شوی وي ... خو به بد ډول ټوټه ټوټه شوی ؤ. د هغه د سر چپ خوا کې د ګولی سوری ښکاریده او د هغه ستونی او ټول بدن پری شوی ؤ. دواړه لاسونه یې پرې شوي او په بجلکونو، شا او پښو او په غاړه کې یې نه (۹) پرې شوي پرهارونه لیدل کیده. امجد وویل چې د هغه پر سینه یو نوټ ؤ چې پکښې لیکل شوی ؤ، ”هر څوک چې جاسوسي کوي برخلیک به یې همداسي وي.“ طالبانو دا ډول ویره خپره کړې چې هیڅوک حاضر نه ؤ چې د نظر د جنازې لمونځ ورکړي.**



*”د محبوسینو په باب ټولې عریضې چې د پېښور عالي محکمې ته وړاندې کیږي د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ته راجع کیږي. دغه وزارتونه وروسته نورو وزارتونو او امنیتی ادارو سره اړیکه نیسي ... د زیات شمیر عریضو ځواب دا وي: مونږ دغه خلک په اسارت کې نلرو.“*

اقبال محمد، د خیبر پښتونخوا د څارنوال مرستیال


## د عدالت په وړاندې خنډونه

د پاکستان وسلوال پوځ په قبایلي سیمو کې په پوره معافیت سره عملیات کوي. هغوی د یو قانوني چوکاټ لخوا حمایت کیږي په کوم کې چې اساسی قانون او AACPR د پاکستان له عالي محکمو څخه چې په قبایلي سیمو کې د بشري حقونو څخه ساتنه کوي، تیریږي. پاکستاني چارواکي او محکمې تر اوسه پورې د وسلوال پوځ د قانون تنفیظ او استخباراتي سرویس کارکونکي د اجباري ورکیدو، شکنجه او نور ناوړه چال چلند او یا د توقیف شویو کسانو د نا قانونه وژلو په تور تحقیق او یا محاکمه کړي ندي.

د AACPR لاندې یو میکانیزم موجود دی چې د هغې له لارې نیول شوي کسان د توقیف په جریان کې د چلند په باب شکایت وکړي خو داسې نښکاری چې دغه میکانیزم عملی شوی وي. په هر صورت، دغه میکانیزم د شکنجې او نور ناوړه چلند د مخنیوي لپاره یو اغیزمن میتود نده ځکه چې دغه میکانیزم خپلواک نده او د پوځ پرسونل له محاکمې څخه معافیت لري. همدارنګه، AACPR توقیف شوي کسان له خپل حقونو څخه محروموي ځکه چې هغوی خپل کورنیو او وکیلانو ته لاسرسی نلري.

د عالی محکمې صلاحیت باندې د AACPR او د اساسی قانون محدودیتونه د حکومت جنایی او مدني حساب ورکونې په وړاندې په قبایلي سیمو کې د بشري حقونو سرغړونو یو اغیزمن حقوقي او عملي خنډ دی.

د حقوقي او عملي خنډونو سره سره، کورنۍ د پاکستان اساسي قانون لاندې د اساسي حقونو د ساتنې له لارې دغه ډول قضیې محکمو ته راوستلې دي ترڅو وکولای شي د وسلوال پوځ د توقیف قانونیت تر پوښتنې لاندې راولي. د قانون سره سره، محکمې په دغو قضیو کې خپل صلاحیت څخه کار اخیستلای ده. د ۲۰۱۱ په جون کې، د پیښور عالي محکمه یوه مهمه فیصله صادره کړه چې د هغې له مخې یې چارواکو باندې غږ وکړ ترڅو ۱۹۳۰ تنه خلک چې د AACPR قانون لاندې نیول شوي ؤ راخلاص او یا محاکمه یې کړي. چارواکو وروسته وویل چې ۱۰۳۵ تنه چې بیګناه بلل کیدل له توقیف څخه خلاص کړل. د ۱۹۳۰ له جملې څخه لږ تر لږه ۸۹۵ تنه په توقیف ځایونو کې اوسیږي چیری چې هغوی د شکنجې او مرګ سره مخ دي او معلومه نده چې کله به هغوی محاکمه کیږي.



د بخښني نړیوال سازمان کاپي رایټ

**ښي خواته: د پوځیانو لخوا د نیول شویو سړیانو او هلکانو کورنۍ د پیښور په عالي محکمې کې د معلوماتو انتظار باسي، د ۲۰۱۲ اګست**

**کینڼ:هره میاشت فضل خالق د حبس لستونه چې د پیښور عالی محکمې کې زړول کیږي لولي تر څو د خپل ورور په باب چې فدا حسین نومیږي معلومات پیدا کړي. فضل او فدا دواړه د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۲۳ نیټه د خیرآباد په مارکیت کې چې نوشیره کې موقعیت لري ونیول شول. فضل همغه ماښام راخوشې شه خو فدا تر اوسه پورې په حبس کې اوسیږي.**

---

هغه خلک چې راخوشې شوي دي د وسلوالو پوځیانو څخه ویریږي چې د توقیف په وخت کې د هغوی سره د چال چلند په باب د بخښنې نړیوال سازمان سره وغږیږي. وکیلان چې د هغوی استازیتوب کوي پدې باور دي چې یو زیات شمیر سړي او هلکان راخوشې شوي دي خو وایي چې یوزیات شمیر نور پرته لدې چې محاکمه شي په توقیف کې اوسیږي: د ۲۰۱۲ کال نومبر کې دغه محکمه د پاتې توقیف شویو کسانو لست د برابرولو فیصله صادره کړله خو تر اوسه پورې یې نده تر لاسه کړې.

**ښي: یوه ښځه د خپل ورک شوي زوی تصویر د پېښور په عالي محکمې کې په لاس کې لري، د ۲۰۱۲ کال اګست. هغه د خپل زوی د برخلیک او ځای په باب معلوماتو ته سترګه په لاره ده، هغه د پاکستان وسلول پوځ لخوا نیول شوی ده.**

**په مخه صفحه: د خیبر ایجنسیي په یوې پوځي هډې کې یو سرتیری د پوښل شوي سړیانو ساتنه کوي، د ۲۰۱۰ دسمبر. پوځ ادعا لري چې دا هغه جنګیالان دي چې په قبایلي سیمو کې د عملیاتو له لارې نیول شوي دي.**

**© رویترز/ ک. پرویز**


د بخښنې نړیوال سازمان کاپي رایټ

## پایله

د بخښنې نړیوال سازمان پدې پوهیږي چې پاکستان افغانستان پولې سره نږدې په سرحدي سیمه کې د وسلوال بغاوت او پاڅون له ستونزې سره مخ ده. پاکستان مجبور ۋ چې په دغو سیمو کې مدني طاقت بیا مستقر کړي. پاکستان هم مجبور ۋ هغه بنسټیز تاسیسات چې د جګړې او فصلي سیلابونو له امله ویجاړ شوي، بیا ودان کړي. خو د سرغړونو قانوني پوښښ له لارې، او په قبایلي سیمو کې د عدالت د لاس په غځیدو کې د پاتې راتللو له لارې، پاکستاني چارواکي وسلوال پوځ او طالبان پدې وتوانول ترڅو په معافیت سره بشري حقونو سرغړونو ته دوام ورکړي. که د پاکستان حکومت په قبایلي سیمو کې بشري حقونو ته درناوي ته سملاسي پاملرنه ونکړي، ملیونونه خلک به په دغو سیمو کې په بې قانوني حالت کې پاتې شي.

## وړاندیزونه

**د بخښنې نړیوال سازمان د پاکستان حکومت دې ته هڅوي ترڅو:**

- په FATA او PATA سیمو کې AACPR له منځه یوسي.
- د سرحدي جرمونو قانون ۱۹۰۱ له منځه یوسي او یا یې اصلاح کړي تر څو د پاکستان نړیوال بشري حقونو مکلفیتونو سره سمون ولري.
- په FATA کې په رسمي ډول د پاکستان عالی محکمې او پارلمان صلاحیت د پارلمان او ولسمشر حکم له لارې وغځوي.
- په قبایلی سیموکی د اداری سیستم لخوا توقیفونه ختم شی.
- په حبس کې د مرګ او د شکنجې او نور ناوړه چال چلند او اجباري ورکیدو ټولې قضیې په سملاسی، خپلواکه او غیر جانبداره توګه وڅیړي او عامه خبرتیا ته یې ورسوي.
- په قبایلي سیمو کې د بشري حقونو ټول مجرمین چې که وسلوال پوځیان وي او که طالبان د عدالت منګولو ته وسپاري خو د اعدام سزا دې نه ورکوي.

**د بخښنې نړیوال سازمان** له ۱۵۰ څخه زیات شمیر هیوادونو کې له ۳ میلیونو څخه زیات شمیر خواخوږي، غړي او فعالین لري چې د ناوړه چلند او بشري حقونو له منځه وړلو لپاره هلې ځلې کوي.

زمونږ لیدلوری دا دې چې هر څوک له هغو حقونو څخه برخمن شي چې د بشري حقونو نړیواله اعلامیه او د بشري حقونو نورو نړیوالو اسنادو کې راغلي.

مونږ په هیڅ کوم حکومت، سیاسي ایدیالوژي، اقتصادي منافعو او مذهب پورې تړاو نلرو او یوازې د غړیو او عامه کومکونو له لارې تمویلیږو.

فهرست: ASA 33/020/2012
Pashto

دسمبر 2012

Amnesty International
International Secretariat
Peter Benenson House
Easton Street 1
London WC1X 0DW
United Kingdom

amnesty.org

AMNESTY INTERNATIONAL